

# د لمونځ ادا کولو ثوابونه

پښتو




شیخ طریقت، امیر اہلسنّت، بانیٔ دعوتِ اسلامي، حضرت علّامه مولانا ابو بلال

مُحمّد الیاس عطّار قادِري رَضَوي

دامت برکاتهم العالیة

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

(دا مضمون د کتاب ”فيضانِ نماز“ [اردو] صفحه 7 نه 22 پورې اخستے شوے دے)

# د لمَانځه کولو ثوابونه

يا الله! څوک چې ”**د لمَانځه کولو ثوابونه**“ پوره اولولي يا ئې واوري، هغه ته په مکه او مدينه کښې دډيرو ډيرو لمُونځونو کولو او **جَنَّتُ الْفِرْدَوْس** کښې د بے حسابه داخلے سعادت نصيب کړې. اٰمِين

## د دُرُود شريف فضيلت

خوږ مَدَني آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم لمَانځه نه پس **حَمد** و ثَنا او دُرُود شريف لوستونکي ته اُوفرمائيل: ”دُعا اوغواړه قبوله به کړے شي، سوال اوکړه، دربه کړے شي.“ (نسائی ص۲۲۰، حديث ۱۲۸۱)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## حُضُور ﷺ ټول شل زره [20000] لمُونځونه ادا کړي وو

د مِعراج په شپه د پينځه وخته لمُونځونو فرض کيدلو نه پس زمونږه خوږ خوږ آقا مکّي مَدَني مُصطَفٰى صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل ظاهري حيات (يعني دُنيوي ژوند مبارک) 11 کالو کښې تقريبا شل زره [20000]

لمُونځونه ادا کړي وو (مِراٰة ج۱، ص۲۳) ، تقريباً 500 [پينځه سوه] جُمُعے ئې ادا کړي وې (مِراٰة ج۲ ص۳٤٦) او د اختر 9 [نهه] لمُونځونه ئې ادا کړي وو. (مُلَخَّص از سِيرتِ مُصطفٰے ص۲٤۹) [دغسې] قرآنِ مجيد کښې د لمَانځه ذِکر په سوونو ځائے راغلے دے.

اے د لمَانځه نيک بخته عاشقانو! اعلٰی حضرت اِمامِ اهلِسُنّت مولانا شاه اِمام آحمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: پينځه وخته لمُونځ د الله پاك هغه عظيم نعمت دے چې هغه په خپل عظيم کرم خاص مونږ ته عطا کړے دے، مونږ نه مخکښې يو اُمَّت ته هُم نه دے ورکړے شوے.

(فَتَاوٰی رَضَوِيّه، ج۵، ص٤۳)

## لمُونځ په چا فرض دے؟

هر مسلمان عاقِل و بالغ نارينه او زنانه باندې هره ورځ **پينځه وخته لمُونځ فرض دے**. د دې د فرضِيَّت (يعني فرض کيدو) انکار **کفر** دے. څوك چې قصداً [يعني اِرادَتاً] د يو وخت **لمُونځ** پريږدي هغه فاسِق، سخت ګنهګار او د عذابِ نار [يعني د دوزخ د اور] حقدار دے.

جنت اے بے نمازيو! کس طرح پاؤ گے؟ ناراض رب ہوا تو جہنم ميں جاؤ گے

اے بيلمانځو جَنَّت بـه څنګه ګټئ که رب ناراض شو، دوزخ ته به ځئ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## لمُونځ زمونږ د پاره انعام دے

افسوس! افسوس! نن اکثر مسلمانان د **لمَانځه** هيڅ پرواه نه کوي، زمونږه ځماتونه د **لمُونځ** ګزارو نه تش پراته وي. **الله** پاك د **لمَانځه** فرض کولو په صورت کښې په مونږ باندې عظيم احسان کړے دے، مونږ که لږ کوشش اوکړو او **لمُونځ** اوکړو نو **الله** کريم مونږ ته ډير ډير آجر و ثواب را کوي.

## د لمَانځه باره کښې ۷ آيتونه

﴿۱﴾ پاره 18 سُوْرَةُ الْمُؤْمِنُوْن آيت نمبر 9، 10، 11 کښې اِرشاد کيږي:

وَ الَّذِيْنَ هُمْ عَلٰى صَلَوٰتِهِمْ يُحَافِظُوْنَ ۘ﴿۹﴾ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْوٰرِثُوْنَ ۙ﴿۱۰﴾ الَّذِيْنَ يَرِثُوْنَ الْفِرْدَوْسَ ؕ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۱۱﴾

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِيمان : او هغه خلق چې د خپلو لمُونځونو حفاظت کوي. هُم دا خلق وارثان دي چې د فِردَوس مِيراث به تر لاسه کوي، هغوئي به په هغې کښې هميشه اوسيږي.

﴿۲﴾ **الله** پاك په قرآنِ کريم کښې ځائے په ځائے د لمَانځه تاکيد فرمائيلے دے، پاره 16 سُوْرَةُ طٰهٰ آيت نمبر 14 کښې اِرشاد فرمائي:

اَقِمِ الصَّلٰوةَ لِذِكْرِيْ ﴿۱۴﴾

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِيمان: او زما د ياد د پاره لمُونځ قائم ساته.

﴿۳﴾ **الله** تَبَارَكَ وَ تَعَالٰى پاره 5 سُوْرَةُ النِّسَآء آيت نمبر 103 کښې اِرشاد

فرمائي:

اِنَّ الصَّلٰوةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ كِتٰبًا مَّوْقُوْتًا(۱۰۳)

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان : بیشکه لمُونځ مسلمانانو باندې په ټرلې (یعني مقرره) وخت کښې فرض دے.

﴿٤﴾ الله پاك پاره 12 سُوْرَةُ هُـوْد آیت نمبر 144 کښې اِرشاد فرمائي:

وَ اَقِمِ الصَّلٰوةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَ زُلَفًا مِّنَ الَّيْلِ ؕ اِنَّ الْحَسَنٰتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّاٰتِ ؕ ذٰلِكَ ذِكْرٰى لِلذّٰكِرِيْنَ(۱۱۴)

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: او لمُونځ قائم ساته د ورځې دواړو سرونو او د شپې په څه حصّو کښې، بیشکه نیکۍ بدۍ ختموي، دا نصیحت دے د منونکو د پاره.

﴿٥﴾ زمونږ مهربانه ربّ پاره 18 سُوْرَةُ النُّوْر آیت نمبر 56 کښې فرمائي:

وَ اَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَ اٰتُوا الزَّكٰوةَ وَ اَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ(۵۶)

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان : او لمُونځ قائم ساتئ او زکوٰة ورکوئ او د رسُول فرمانبرداري کوئ، په دې اُمِّید چې په تاسو رَحم اوشي.

﴿٦﴾ الله تَبَارَكَ وَ تَعَالٰى په پاره 21 سُوْرَةُ الْعَنْكَبُوْت آیت نمبر 45 کښې فرمائي:

اِنَّ الصَّلٰوةَ تَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَآءِ وَ الْمُنْكَرِ ؕ

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان : بيشکه لمُونځ منع کوي د بے حيائي او بدي خبرې نه.

﴿۷﴾ اللّٰه تعالیٰ په پاره 29 سُوْرَةُ الْمَعَارِج آيت نمبر 34 او 35 کښې اِرشاد فرمائي:

وَ الَّذِیْنَ هُمْ عَلٰى صَلَاتِهِمْ یُحَافِظُوْنَ ؕ﴿۳۴﴾ اُولٰٓىٕكَ فِیْ جَنّٰتٍ مُّكْرَمُوْنَ ﴿ؕ۳۵﴾

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان : او هغه خلق چې خوك د خپل لمُونځ حفاظت کوي، دا [هغه خلق] دي د چا به چې باغونو کښې اِکرام کيږي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د لمَانځه مختلف 25 فضائل

❖ لمُونځ د اللّٰه پاك د خوشنودئ سبب دے. (تَنبِيهُ الغَافِلِين ص۱۵۰)
❖ لمُونځ د مکّي مَدَني آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سترګو یخوالے دے. (سُنَنِ کبرٰی للنسائی ج۵ ص ۲۸۰ حديث۸۸۸۸ ) ❖ لمُونځ د انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام سُنَّت دے. (تَنبِيهُ الغَافِلِين ص۱۵۱) ❖ لمُونځ د قَبْر د تيارے ډيوه [يعني رنړا] ده. (تَنبِيهُ الغَافِلِين ص۱۵۱)
❖ لمُونځ د قَبْر د عذاب نه بچ کول کوي.(اَلزَّوَاجِرُ ج۱ ص۲۹۵) ❖ لمُونځ د

قيامت په لـمر کښې سورے دے. (تَنبِيهُ الغَافِلِين ص١٥١) ❖ **لمُونځ** د پُل صِراط د پاره آساني ده. (تَنبِيهُ الغَافِلِين ص١٥١) ❖ لمُونځ نُور دے. (مُسلِم ص١٤٠ حديث٢٢٣) ❖ لمُونځ د جَنَّت کنجي ده. (مُسنَد اِمام اَحمَد، ج٥ ص١٠٣حديث١٤٦٦٨) ❖ **لمُونځ** د جَهنَّم د عذاب نه بچ کول کوي ❖ لمُونځ سره رَحمت نازليږي ❖ **الله** پاك به په ورځ د مَحشر **لمُونځ گزاره** نه راضي وي ❖ **لمُونځ** د دِين ستن ده. (شُعَبُ الْاِيْمان ج٣ص٣٩ حديث٢٨٠٧) ❖ **لمَانځه** سره گناهونه معاف کيږي. (مُعْجَم کبِير ج٦ ص٢٥٠ حديث ٦١٢٥) ❖ **لمُونځ** د دُعاگانو د قبولِيَّت سبب دے. (تَنبِيهُ الغَافِلِين ص١٥١) ❖ **لمُونځ** د بيمارو نه بچ کول کوي ❖ **لمَانځه** سره بدن ته راحت حاصليږي ❖ **لمَانځه** سره په روزئ کښې بَرَکت راځي ❖ **لمُونځ** د بے حيايئ او بدو کارونو نه بچ کول کوي ❖ **لمُونځ** شيطان ته ناخوښه دے. (تَنبِيهُ الغَافِلِين ص١٥١) ❖ **لمُونځ** د قَبْر په تِياره کښې د تنهائي [يعني يواځې کيدو] ملگرے دے. (تَنبِيهُ الغَافِلِين ص١٥١) ❖ **لمُونځ** د نيکئ تَله درنَوي. (تَنبِيهُ الغَافِلِين ص١٥١) ❖ **لمُونځ** د مومِن مِعراج دے. (مِرقاةُ الْمَفَاتِيح ج١ص٥٥) ❖ **لمُونځ** په وخت ادا کول د ټولو اعمالو نه افضل دي. (تَنبِيهُ الغَافِلِين ص١٥١) ❖ **لمُونځ گزاره** د پاره د ټولو نه غټ نعمت دا دے چې هغه ته به په ورځ د قيامت د **الله** پاك دِيدار نصيب کيږي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## چې کله غل لمُونځ اوکړو (حکايت)

د حضرتِ سَيِّدَتُنا رابعه بَصرِيه **عَدَوِيَّه** رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡهَا کور ته يوه شپه يو غل ننوتو، هغه هر ځائے اولټوو خو د يوے لَوټے نه علاوه ئې هيڅ اُو نه موندل. چې کله هغه بيرته روان شو نو هغې رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡهَا ورته اُوفرمائيل: که ته غَل ئې نو تش لاس به نه ځے. هغه اُووئيل: ما خو هيڅ څيز پيدا نه کړو. هغې اُوفرمائيل: "اے غريبه! په دې لَوټه اودس اوکړه او کوټے ته ننوځه او **دوه رکعاته لمُونځ** اوکړه، دے ځائے نه به څه نه څه يوسے." هغه اودس اوکړو او چې کله په **لمَانځه** اودريدو نو حضرتِ سَيِّدَتُنا رابعه بَصرِيه **عَدَوِيَّه** رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡهَا دُعا اوکړه: "اے زما خوږه **الله**! دا کس زما کره راغے خو ده هيڅ هُم اُو نه موندل، اوس ما دے ستا په بارګاه کښې اودرولولے دے، دا د خپل فضل او کرم نه مه مَحرومَه کوه." هغه **غل** ته د عبادت داسې خوند نصيب شو چې هغه د شپې د آخري حِصَّے پورې په **لمَانځه** کښې مشغول شو. د پيشمنې په وخت کښې هغې رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡهَا د هغه خوا ته تشريف يوړلو نو هغه د سَجدے په حالت کښې خپل نفس رټلو او دا ئې وئيل: "اے نفسه! چې کله به زما **ربِّ کريم** زما نه تپوس کوي چې تا ته حيا نه درتله چې تا زما نافرمانئ کولې! تا اګر چې زما د مخلوق نه خپل ګناهونه پټول، خو اوس د ګناهونو پنډ په سر زما په بارګاه کښې پيش ئې! اے

نفسه! که زما رَبُّ الْعِزَّت زما عِتاب اوکړي (يعني ما ملامته کړي) او د خپل رحمت د بارګاه نه مې لرې کړي نو زه به څه کووم؟'' چې کله هغه فارِغ شو نو هغې رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہَا ترينه تپوس اوکړو: اے وروره! شپه دِ ځنګه تيره شوه؟ هغه اُووئيل: ''زه په عاجزۍ او اِنکِسارۍ د خپل **ربّ** تعالیٰ په بارګاه کښې اودريدم نو هغه زما کوږوالے سم کړو، زما معذرت ئې قبول کړو او زما ګناهونه ئې اوبخښل او زه ئې خپل مقصد ته اورسوَلم.'' بيا هغه سرے په داسې حال کښې لاړو چې د هغه په مخ حيراني او پريشاني ظاهره وه. حضرتِ سَيِّدَتُنا رابعه بَصرِيه رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہَا د **الله** تعالیٰ په بارګاه کښې لاسونه پورته کړل او داسې عرض ئې اوکړو: اے زما خوږه **الله**! دا کس ستا بارګاه کښې يو ساعت اودريدو نو تا قبول کړو او زه د ډير وخت نه ستا بارګاه کښې ولاړه يم، آيا تا زه هُم قبوله کړې يم؟ ناڅاپه ئې د زړه په غوږونو دا آواز واوريدو: اے رابِعه! مونږه هغه ستا په وجه قبول کړو او هُم ستا په وجه مو ورته خپل نزديکت عطا کړو. (حکايتيں اور نصيحتيں ص ۳۰۶)

مُلَخَّصاً) د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.

اٰمِين بِجَاہِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

نګاہِ ولی میں وہ تاثیر دیکھی        بدلتی ہزاروں کی تقدیر دیکھی

ما ليدلے په نظر کښې د وَلي داسې تاثِير

چې بدل ئې د زړګاؤ کړو تقدِير

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د لمَانځه د وختونو د خيال ساتونکي فضيلت

د حُضُور تاجدارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان دے: **الله** پاك اِرشاد فرمائي: که بنده په وخت کښې لمُونځ قائم اوساتي نو زما د بنده زما په ذِمّهٔ کرم باندې دا عَهد (يعنى وعده) ده چې هغه ته عذاب ورنکړم او بے حسابه ئې جَنَّت ته داخل کړم.“ (اَلْفِرْدَوْس بِمَأْثُور الْخطَاب ج۳ ص۱۷۱ حديث۴۴۵۵)

حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو دَرداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَحبابو (يعني دوستانو) ته اُوفرمائيل: که تاسو غواړئ نو زه به ضرور قَسَم اوخورم، بيا ئې اُوفرمائيل: قَسَم په هٰغه **الله**! چې د هغه نه سِوا بل هيڅ څوك مَعبُود (يعني د عبادت لائق) نشته، بيشکه د **الله** پاك په بارګاه کښې د ټولو بندګانو نه زيات عَظَمت والا خلق هغه دي څوك چې شپه او ورځ د لمَر د ستړګي او سپوږمئ خيال ساتي. اَحبابو (يعني دوستانو) عرض اوکړو: اے اَبُو دَرداء! آيا د دې نه مُـؤَذِّنِين مُراد دي؟ هغوئي اُوفرمائيل: ”بلکه کوم مسلمان هُم چې د لمَانځه د وخت خيال ساتي.“

(کتاب الثقات ج۴ ص۳۳۰ حديث۴۷۹۹)

## .... نو لمُونځ نه کيږي

اے **عاشقانِ رَسُول!** اوس تاسو د لمَانځه د وختونو د خيال ساتلو فضيلت واوريدو، هر چا ته د لمَانځه د وختونو خيال ضرور ساتل پکار دي. بعضې لمُونځ گُزاره [خلق هُم] د دې بالکل پرواه نه کوي، تر دې چې د لـمر سترګه را اوخيژي او د سحر د لمَانځه وخت تير شي او دوئي بيا هُم لمُونځ کوي! حالانکه که د سحر د لمَانځه سلام ګرځولو نه مخکښې د لـمر د سترګې يوه پلوشه هم را اوخيژي نو لمُونځ به نه کيږي. اعلیٰ حضرت اِمامِ اهلِسُنّت رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡه فرمائي: د وخت پيژندل (يعني د لمَانځه، روژے وغيره وختونونو معلومات لرل) خو هر مسلمان باندې فرضِ عَين (يعني د هر عاقِل و بالِغ مسلمان د پاره ضروري) دي." (فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه، ج۱۰،ص۵٦۹)

## اوس د وختونو معلومات زيات مشکل نه دي

اے **عاشقانِ رَسُول!** نن صبا د ترقئ دَوَر دے، اوس وختونه معلومول زيات مشکل نه دي، وخت معلومولو د پاره ګينټې [ګړئ] موجودې دي، مخکښې به خلقو د لمَر سترګې، سپوږمئ او ستورو ته کتل او وخت به ئې معلومولو. اوس هُم د دې ذريعو نه معلومولو نه پس تَوقِيت دان عُلَماء زمونږ د سهولت د پاره د لمَانځه او پيشمني او روژه ماتي [د وختونو] نقشه جوړوي او عام طور زمونږه جُماتونو کښې دا نقشے

زوَړندي وي.[1]

## د زمکې نه دِينارونه راوِيستلو والا لمُونځ ګزاه (حِکايت)

حضرتِ سَيِّدُنا ابوبکر بِن فضل رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي چې ما د خپل يو رُومي دوست نه په ټينګتيا سره تپوس اوکړو چې ستا د اسلام قبلولو سبب څه دے نو هغه دا بيان اوکړو چې: زمونږه په ملك باندې د مسلمانانو لښکر حمله اوکړه، جنګ اوشو، څه خلق زمونږه قتل شو او څه د هغوئي. ما يواځې لس مسلمانان قيد کړل. په رُوم کښې زما ډير غټ کور وو، هغوئي



[1] اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه د عاشقانِ رَسُول مدني تَحريك، "دعوتِ اسلامي" زيرِ اِهتِمام "مجلِسِ تَوقِيت" تيرو ډيرو کلونو نه د اعلیٰ حضرت اِمام اَحمد رضا خان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د تَحقِيق مطابق د لـمانځه د صحيح وختونو او د قِبلے د صحيح رُخ مُتَعَلِّق د ټولے دُنيا د مسلمانو د رهنمائي د پاره په کوشش کښې مصروف دے. (د دے لِپك د وخته پورے) د پاکستان د ډيرو غټو ښارونو نظامُ الاوقات (TIME TABLE) شائع شوي دي، چې هغه د مَكۡتَبَةُ الۡمَدِينه د مُتَعَلِّقه شاخونو نه حاصليدے شي. نوره هُم د مُلك او د بيرونِ مُلك د ډيرو ښارونو د "نظامُ الاوقات" د اشاعت سلسله جاري ده. په نظامُ الاوقات کښې د ښارونو د [رقبےد] غټوالي او د اوچتو عمارتونو لحاظ ساتلو سره سره د آئنده 26 کالو مُمکِنه فرق هُم شرعي احتياط سره شامِل کړے شوے دے. ياد ساتئ! چې هر کال د لـمونځونو وختونو کښې څه فرق راځي هر خلورم کال بيا هُم هغه ځائے له راځي، لِـهذا د نور صحيح کولو د پاره د آئنده 26 کالو مُمکِنه فرق هُم شرعي احتياط سره شامِل کړے شوے دے. د دے نه علاوه د مجلِس تحت تيار شوي مختلف موبائل ايپليکيشنز او آن لائن نِظامُ الاوقات نه علاوه د اَوقَاتُ الصَّلٰوة سافټ ويئر په ذريعه هُم د دُنيا تقريباً د 27 لکو مقاماتو د پاره نظامُ الاوقات او د قِبلے طرف معلوميدے شي.

مې خپلو خادمانو ته حواله کړل. هغوئي ورته بيړئ واچولي او د **قچرو** بارولو په کار ئې اولګول. يوه ورځ څه ګورم چې په هغه قيديانو باندې مُقَرَّر يو خادِم لمَانځه ته د پريښودو په بدله کښې د يو قيدي نه څه اخلي [يعني هغه قيدي هغه خادِم ته څه رقم ورکوي چې ما لمَانځه ته پريږده]، ما هغه خادِم اُووَهلو او تپوس مې ترينه اوکړو چې اُووايه! ته د دې قيدي نه څه اخلې؟ هغه اُووئيل چې دے ما ته د هر **لمَانځه** په وخت کښې يو دِينار (يعني د سرو زرو سيکه) راکوي. ما ترينه تپوس اوکړو: آيا ده سره دِينارونه شته دے؟ هغه اُووئيل نه، خو **چې کله د لمَانځه نه فارِغ شي نو په زمکه لاس اُووهي او د هغې نه يو دِينار را اُوباسي او ما ته ئې راکړي!** (د هغه خادِم خبره چې ما واوريدله نو) زما په زړه کښې شوق پيدا شو چې زه د دې خبرې په حقيقت ځان پوهه کړم. لِـهذا چې بله ورځ راغله نو ما د هغه خادِم وردي واغوستله او د هغه په ځائے اودريدم. چې د ماسپښين وخت شو نو هغه ما ته اشاره اوکړه چې ما **لمَانځه** کولو ته پريږده نو زه به تا ته يو دِينار درکړم. ما اُووئيل: زه به د دوو دينارونو نه کم نه اخلم. هغه اُووئيل: صحيح ده. ما هغه خلاص کړو، هغه چې د **لمَانځه** نه فارِغ شو نو ما اوليدل چې **په زمکه ئې لاس اُووهلو او د هغه ځائے نه ئې دوه دِينارونه را اُوويستل او ما ته ئې راکړل.** چې د مازديګر وخت راغے نو هغه ما ته د مخکښې په شان اِشاره اوکړه، ما ورته اِشاره اوکړه چې د پينځه دِينارونو نه

کم به نه اخلم. هغه اُومنله. چې د ماښام وخت شو نو حسبِ معمول ئې ما ته بيا اِشاره اوکړه، ما اُووئيل: د لسو دِينارونو نه به کم نه اخلم. هغه زما خبره اومنله. او چې کله د **لمَانځه** نه فارغ شو نو د زمکې نه ئې لس دِيناره را اُووِيستل او ما ته ئې راکړل، چې بيا کله د ماسخُتن د **لمَانځه** وخت شو نو هغه د خپل عادت مطابق ما ته بيا اشاره اوکړه، ما اُووئيل: زه به د شلو دينارونو نه کم نه اخلم، هغه بيا هم زما خبره تسليم کړه، او د **لمَانځه** نه چې فارغ شو نو د زمکې نه ئې شل دِيناره را اووِيستل او ما ته ئې راکړل او اُوئې وئيل: چې څه غواړې هغه غواړه زما مَولٰى ډير غني او کريم دے، زه چې د هغه نه څه غواړم هغه به ئې راکوي. د هغه دا مُعامَله چې ما اوليدله نو زما يقين اوشو چې دا وَلِيُّ الله دے، ما باندې د هغه رُعب پريوتو او د زنځيرونو نه مې خلاص کړو او هغه شپه مې په ژړا تيره کړه.

چې سحر شو نو هغه مې را اوغوښتلو او د هغه تعظيم و تکريم [يعني ادب و احترام] مې اوکړو، هغه ته مې د هغه د خوښې نوے لباس ور واغستلو او اختيار مې ورکړو چې که غواړې نو زمونږ په ښار کښې ښه د عِزَّت په کور کښې يا محل کښې اوسيږه او که غواړې نو خپل ښار ته لاړ شه. هغه خپل ښار ته تلل غوره کړل. ما يو قچر را اوغوښتو او د لارې سامان مې ورکړو او بچپله مې په قچر سور کړلو. هغه ما ته دُعا اوکړه:

”اللّٰه پاك دِ ستا خاتِمه په خپل خوښ کړي دِين باندې اوکړي.“ د هغه دا جُمله لا پوره شوې نه وه چې زما په زړه کښې د اسلام مَحبَّت پيدا شو، بيا مې هغه سره خپل لس غُلامان اوليږل او هغوئي ته مې حُکم اوکړو چې دوئي په نهايت احترام سره بوځئ. بيا مې هغه ته يو دوات (يعني د سياهې بوتل) او کاغذ ورکړو او يوه نښه مې ورسره مُقَرَّره کړه چې کله تاسو په پوره حفاظت خپل ځائے ته اورسيږئ نو هغه نښه اوليکئ او ما ته ئې را اوليږئ. زمونږه او د هغوئي د ښار د مينځه د پينځؤ ورځو فاصله وه. چې شپږمه ورځ راغله نو زما خادمان ما ته راغلل، هغوئي سره رُقعه هُم وه چې په هغې کښې د هغه خط او هغه نښه موجوده وه. ما د خپلو خادِمانو نه د زر رارسيدلو تپوس اوکړو نو هغوئي اُووئيل چې کله مونږه هغه سره د دې ځائے نه اُووتلو نو مونږ د هيڅ قِسم سترې والې او مَشَقَّت نه بغير په لږ ساعت کښې هلته اورسيدلو، خو بيرته راتلو کښې مو هُم هغه سفر په پينځه ورځو کښې اوکړو. چې د هغوئي دا خبره مې ښَکه واوريدله نو ما دا کلمه اولوستله:

اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَ اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ وَ اَنَّ دِيْنَ الْاِسْلَامِ حَقٌّ.

(ترجمه: زه ګواهي ورکووم چې د اللّٰه نه سِوا بل يو معبود نشته او زه ګواهي ورکووم چې يقيناً حضرت مُحَمَّد (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) د اللّٰه (تعالٰی) رَسُول دے او

بيشكه دِينِ اسلام حق دے) بيا زه د رُوم نه اُووتلم او د مسلمانانو ښار ته راغلم. (حکایتیں اور نصیحتیں (اردو) ص۱۷۹)

د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

کیوں کر نہ میرے کام بنیں غیب سے حسن
بندہ بھی ہوں تو کیسے بڑے کار ساز کا

(ذوقِ نعت)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## اركانِ اسلام پينځه دي

صحابي اِبنِ صحابي حضرتِ سَيِّدُنا عبدُاللّٰه اِبنِ عُمَر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمَا رِوايت كوي چې خوږ مَدَني سردار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي چې د اسلام بُنياد په پينځه څيزونو دے: (١) د دې خبرې ګواهي وركول چې د اللّٰه پاك نه سِوا بل هيڅ څوك د عبادت لائق نشته او مُحَمَّد صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغه خاص بنده او رَسُول دے او (٢) لمُونځ قائمول (٣) زكوٰة وركول (٤) حج كول (٥) د رَمَضَان روژے نيول. (بُخاری ج۱ ص۱٤ حدیث ۸)

## د دوه حالتونو نه سِوا لمُونځ معاف نه دے

اے عاشقانِ رَسُول! د كلِمهٔ اسلام نه پس د اسلام د ټولو نه لوئي

رکن لمُونځ دے، په هر عاقِل و بالِغ مسلمان نارینه او زنانه باندې فرضِ عَین دے (یعني د دې ادا کول په هر بالِغ و عاقِل مسلمان باندې لازمي (جنّتي زیور ص ۲۰۹) دي) چې د دوو حالتونو نه سِوا په هیڅ حال کښې معاف نه دے. ﴿۱﴾ جُنُون [یعني لیونتوب] یا بیهوشي چې مُسلسل دومره اوګړده شي چې د شپږو لمُونځونو وخت پکښې تیر شي خو په هوش کښې رانشي نو دا لمُونځونه به معاف شي او د دې قضا هم لازِمه نه وي ﴿۲﴾ که زنانه ته حیض یا نِفاس راشي نو داسې حالت کښې لمُونځ معاف شي. د دې دوو حالتونو نه علاوه په یو حالت کښې هُم لمُونځ معاف نه دے، بیماري اګر که هر څومره سخته وي خو لمُونځ پکښې معاف نه دے، که د اودریدلو طاقت نه لري نو په ناسته دِ لمُونځ اوکړي، که رُکُوع او سَجُده نه شي کولے نو د سر په اشاره دِ رُکُوع او سَجُده اوکړي. که په ناسته هُم لمُونځ نه شي کولے نو په ملاسته دِ ئې په اشاره کښې اوکړي، که په ملاسته په سر هُم اشاره نه شي کولے نو بیا به هُم لمُونځ معاف نه وي، البَته فِي الحال دِ لمُونځ نه کوي چې کله جوړ شي نو د دې لمُونځونو قضا به کوي. رسا په جنګ کښې به هُم مُجاهِد لمُونځ کوي، که په آَس سور وي او د کوزیدلو مُهلت نه لري نو د ممکِن کیدو په صورت کښې به په آَس د پاسه سور په اشاره لمُونځ کوي، هُم دغسې په ډیر سخت جنګ کښې به هُم د مُمکِن کیدو په صورت کښې په اشاره رکوع او سَجُده کوي او لمُونځ به ادا کوي. قرآنِ مجید

کښېږي چې څومره د **لمَانځه** تاکيدي اَحکام او د **لمَانځه** نه کولو سخت وعيدونه راغلي دي دومره تاکيدونه او وعيدونه د بل عبادت د پاره نه دي راغلي. د **لمَانځه** د فرضِيَّت انکار کوونکے بلکه د دې په فرضِيَّت کښې شك کوونکے هُم کافِر او د اسلام نه خارج دے او قَصداً [يعني اِرادَتاً] د يو وخت **لمُونځ** پرېښودلو والا فاسِق، سخت ګنهګار او د اور د عذاب حقدار دے. افسوس! نن صبا بعضې داسې مسلمانان چې څان لمُونځ ګُزاره ظاهروي د هغوئي دا حال دے چې لږه شان تبه پرې راشي يا ئې په سر درد راشي نو **لمُونځ** پرېږدي، هغوئي دِ خبر شي چې تر څو پورې په اِشاره باندې هُم د **لمَانځه** کولو طاقت لري نو **لمُونځ** به کوي ګني د اور د عذاب حقدار به وي. **الله** رَبُّ الْعِزَّت دِ مونږ ټولو ته هره ورځ د پينځه وخته **لمُونځ** ادا کولو سعادت رانصيب کړي. **اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو**! د مدينے تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډير ځله د **لمَانځه** اَهَمِيَّت بيان کړے دے او زمونږ د ترغيب د پاره ئې د **لمَانځه** بيشميره فضائل هُم بيان کړي دي. چنانچه اولوَلئ او خوشحاله شئ:

## اُمَّتِ مُصطَفٰی سره د مُوسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام همدردي

د شَهنشاهِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دے: **الله** پاك زما په اُمَّت پنځوس لمُونځونه فرض کړي وو. چې کله زه بيرته د مُوسیٰ

(عَلَيْهِ السَّلَام) خوا ته راغلم نو مُوسىٰ (عَلَيْهِ السَّلَام) رانه تپوس اوکړو چې **الله** پاك ستاسو (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) په اُمَّت څه فرض کړي دي؟ ما هغوئي ته اُووئيل چې **الله** پاك په ما پنځوس لمُونځونه فرض کړی دي نو هغوئي (عَلَيْهِ السَّلَام) اُووئيل: خپل **ربّ** ته لاړ شئ، ستاسو (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) اُمَّت دومره طاقت نه لري. زه بيرته **الله** پاك ته ورغلم، د هغې (يعني پنځوسو) نه ئې څه حِصَّه کمه کړه، چې بيا د مُوسىٰ (عَلَيْهِ السَّلَام) خوا ته راغلم، نو هغوئي زه بيا اوکرځولم. **الله** پاك اُوفرمائيل: دا پينځه دي او د پنځوسو قائم مقام دي. ځکه چې زمونږه قول کښې تبديلي نه کيږي. زه د مُوسىٰ (عَلَيْهِ السَّلَام) خوا ته بيرته راغلم. هغوئي (عَلَيْهِ السَّلَام) اُووئيل: بيا **الله** پاك ته ورشئ. ما جواب ورکړو: ما ته خو د خپل **ربّ** نه نور شرم محسوسيږي. (اِبنِ مَاجَه ج۲، ص۱۶۶ حديث۱۳۹۹)

## پينځه لمُونځونه کوئ او د پنځوسو ثواب حاصلوئ

حضرتِ سَيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي: په نبيءِ مُحترم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې د مِعراج په شپه **پنځوس لمُونځونه** فرض کړے شو، بيا کم کړے شو، تر دې چې پينځه پاتې شو، بيا ورته آواز اوکړے شو: اے محبوب (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) زمونږه خبره نه بدليږي او ستاسو (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) **د پاره د دې پينځو په بدل کښې د پنځوسو ثواب دے.** (تِرمِذِی، ج۱ ص۲۵۴ حديث۲۱۳)

## مُوسٰی عَلَیْهِ السَّلَام مدد اوکړو

اے عاشقانِ رَسُول! تاسو اوليده! چې **حضرتِ سَيِّدُنا مُوسیٰ كَلِيمُ الله** عَلَیْهِ السَّلَام د خپل ظاهري وفات نه دوه نيم زره کاله پس د اُمَّتِ مُصطَفٰی دا مدد اوکړو چې د معراج په شپه ئې د پنځوسو لمُونځونو په ځائے پينځه کړل. الله پاك ته معلومه وه چې لمُونځونه به پينځه پاتې کيږي خو پنځوس ئې مُقَرَّر کړل او بيا ئې د خپلو دوو ګرانو [نبيانو] په ذريعه پينځه مُقَرَّر کړل. دلته مزيداره خبره دا ده چې کوم خلق د شيطان په وسوسه عمل کوي او د دُنيا نه تللو والا خلقو د امداد او تعاون انکار کوي هغوئي هُم پنځوس نه بلکه پينځه لمُونځونه کوي حالانکه د پينځه لمُونځونو په مُقَرَّرولو کښې يقيني طور د غيرُ الله (يعني د الله نه سِوا کس) او هغه هُم د وفات نه پس کيدونکے مدد شامل دے.

## د لوبو شوقي

ځان د لمُونځونو پابند جوړلو او د شيطاني وسوسو نه بچ کولو او د ايمان د حفاظت سوچ حاصلولو د پاره د عاشقانِ رَسُول مَدَني تَحرِيك، "دعوتِ اسلامي" مَدَني ماحول سره خپل تَعَلُّق هر وخت مضبوط ساتئ. راځئ چې يو مَدَني سپرلے واورو: د پنډي ګهيپ (ضلع اَټَك، پنجاب) يو اِسلامي ورور به د عاشقانِ رَسُول د مَدَني تَحرِيك "دعوتِ اسلامي" خوشبودار مَدَني ماحول کښې شامليدو نه مخکښې د ګناهونو ډك ژوند

تیرولو. ټوله ورځ کرکټ کول او ښو ښو ګینتې تې وي ته ناست فلمونه او ډرامې کتل د هغه خوښ کارونه وو. **نَعُوذُبِالله لمُونځ** کول خو څه بلکه چا به چې ورته د **لمَانځه** اُووئیل نو د خبرې منلو په ځائے به ورته غُصَّه کیدلو. مور و پلار ته به ئې بد رد وئیل او خویندو وروڼو سره به ئې بد سُلوك کولو. د هغه د محلّے د دعوتِ اسلامي والؤ يو ښو اِسلامي وروڼو به هغه ته د اِنفرادي کوشش په ذریعه د **لمَانځه** کولو او د دعوتِ اسلامي هفته واره د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې د شرکت کولو دعوت ورکولو خو هغه به هیڅ تَوجُّه نه ورکوله. بیا يو اسلامي ورور هغه ته اُووئیل چې تاسو کم از کم **مَدرَسةُ الْمَدینه** (بالِغان) کښې شرکت کوئ د دې په بَرَکت به صحیح قرآنِ پاك لوستل زده کړئ. د اسلامي ورور خبره پرې ښه اولګیده او د خپلې علاقے په جُمات کښې ئې په **مَدرَسةُ الْمَدینه** (بالِغان) کښې سبق وئیل شروع کړو. د هغه ځائے ماحول ورته ښه ښکاره شو او باقاعدګئ سره ئې راتلل شروع کړل. د **الله** پاك دا لوئ فضل و کرم پرې اوشو چې د **مَدرَسةُ الْمَدینه** (بالِغان) په بَرَکت ئې لمُونځ کول شروع کړو او د بیشمیره سُنَّتونو او دیني مسائلو زده کولو موقع هُم په لاس ورغله. چې د کوم مدني ماحول نه به لرې تښتیدلو، لږه موده پس هغه په مَدَني ماحول کښې پوخ شامل شو.

تمہیں لطف آجائے گا زندگی کا　　　قریب آکے دیکھو ذرا مَدَنی ماحول

(وسائلِ بخشش ص ٦٠٤)

تا ته به درکړي خوند دا خپل ژوند

ته راشه لږ نِزدے اُووِينه دا مَدَني ماحول

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## په صبر او لمَانځه سره مدد اوغواړئ

د دعوتِ اسلامي د مَکْتَبَةُ الْمَدِينه د ترجمے والا قرآن ''کَنْزُ الْاِيْمان **مع** خَزائِنُ الْعِرفان'' صفحه 17 پاره 1 سُوْرَةُ الْبَقَرَه آيت نمبر 45 کښې اِرشاد کيږي:

وَ اسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَ الصَّلٰوةِ ؕ وَ اِنَّهَا لَكَبِيْرَةٌ اِلَّا عَلَى الْخٰشِعِيْنَ ﴿۴۵﴾

[مَفهُوم] ترجمهٔ کنزالاِيمان : او د صبر او لمَانځه سره مدد اوغواړئ او بيشکه لمُونځ ګران دے، خو په هغوئي نه، څوك چې د زړه د اخلاصه زما طرف ته تيټيږي.

صَدْرُ الْاَفَاضِل حضرت مولانا سيّد نعيم الدِّين مُراد آبادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې آيت نه لاندې ليکي: يعني د خپلو حاجتونو د پاره په صبر او **لمَانځه** سره مدد اوغواړئ (نور فرمائي:) په دې آيت کښې د مصيبت په وخت کښې د **لمَانځه** په ذريعه د اِستِعانَت (يعني د مدد غوښتلو) تعليم هُم ورکړے شوے دے ځکه چې دا [لمُونځ] د عِبادتِ بَدَنِيَّه او نفسانِيَّه جامِع

دے او په دې کښې د **اللہ** نزدیکت حاصلیږي. حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د اَهمو اُمورو په پیښیدلو **لمَانځه** کښې مشغول کیدلو، په دې آیت کښې هُم وئیلي شوي دي چې مُؤمِنِین صادِقِین (یعني رښتیني مسلمانانو) نه سِوا نورو باندې **لمُونځ** دروند دے. (خَزائِنُ الْعِرفان ص۱۷)

## چې کله به په بارګاهِ رِسالت کښې لوَږه حاضره شوه....

**حضرت** مُفتي احمد یار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې آیتِ مبارکه نه لاندې لیکي: دلته "صلٰوة" نه یا خو پینځه وخته لمُونځ مُراد دے یا خاص لمُونځ. یعني د پینځه وخته لمُونځونو په ذریعه مدد حاصلول، د هر مصیبت په وخت کښې د لمُونځونو په ذریعه، د قحط په کال باندې د اِستِسقا د لمَانځه په ذریعه او د خاص مصیبت په وخت کښې د صلٰوةِ حاجت وغیره په ذریعه. ځکه چې لمُونځ انسان د دُنیا نه بے خبره کړي او د **اللہ** طرف ته ئې مُتَوَجِّه کوي، ځکه د دې په بَرَکت د دُنیا مشکلات د زړه نه فراموش (یعني هیر) کړے شي. "(صاحِبِ) تفسیرِ عزیزي" دې ځائے کښې بیان کړي دي چې د نبيِّ کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په کور کښې به [کله] لوَږه وه او د شپې به ئې څه ملاحظه نه کړل (یعني اُو نه خوړل) او د لوَږې غَلَبه به شوه نو نبيِّ کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به جُمات ته تشریف یوړلو او **لمَانځه** کښې به مشغول شولو. (تفسیرِ نعیمی ج۱ ص۲۹۹ تا ۳۰۰)

## چې کله د ځوئ د وفات نه خبر شو (حکايت)

حضرتِ اِبنِ عَبَّاس رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ چې د ځوئ د وفات خبر واريدو نو **لمَانځه** کښې مشغول شو او **لمُونځ** ئې دومره اوګږد کړو چې خلقو [مرحوم] خخ کړو او بيرته راغلل نو هله [د لمَانځه نه] فارغ شو. خلقو ترينه د وجهې تپوس اوکړو نو اُوئې فرمائيل چې دے ځوئ سره زما ډير محَبَّت وو، ما د ده د جُدائي غم نه شو برداشت کولے، لِهذا **لمَانځه** کښې مشغول شوم نو د دې غم نه بے خبره شوم او هُم دا آيت (وَ اسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ ؕ [مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِيمان: او په صبر او لمَانځه سره مدد اوغواړئ) ئې اولوستلو. (تفسيرِ نعِيمی ج۱ ص۲۹۹ تا ۳۰۰)

جنت میں نرم نرم بچھونوں کے تخت پر
آرام سے بٹھائے گی اے بھائیو! نماز

په تخت به مو جَنَّت کښې په نرمو بسترو
په آرام کښينوي اے وروره! دغه مونځ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د جُمات هوا د ايمان صحيح کولو د پاره فائده منده ده

مُفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَيْه په يو مقام کښې فرمائي: لمُونځ د مصيبتونو بهترين علاج او د رحمتونو حاصلولو اعلٰی ذريعه ده، لمَانځه

سره د بدن صفائي، د لِباس پاکي، د اخلاقو پاکيزګي، د آخرت سره اُلفت او د دُنيا نه بے رَغبتي او **ربّ** تعالیٰ سره مَحبَّت حاصليږي، په شرط د دې چې په حُضُورِ قَلب (يعني د زړه په تَوجُّه) سره ادا کړے شي. څنګه چې په مختلفو دوايانو کښې تاثيرونه دي هُم دغسې په **لمَانځه** کښې دا تاثِير دے چې هغه د ګناهونو او بدو کارونو نه بچ کول کوي او څنګه چې د غرونو هوا د تندرستئ د پاره فائده منده وي هُم دغسې **د جُمات هوا د ايمان صحيح کولو د پاره فائده منده وي، لمَانځه** کښې يوه خاص خبره دا ده چې دا د انسان فِکر غلطوي يعني د دُنيا نه ئې بالکل غافله کړي او د ربّ (تعالیٰ) په طرف ئې مُتَوَجِّه کوي چې د هغې په وجه د انسان نه دُنيوي غم هير شي او چې [لمَانځه نه] فارِغه شي نو داسې خوشحاله وي چې بيا ئې زړه کښې د مصيبت زيات احساس نه وي، اوګورئ د مِصر ښځې په جمالِ يُوسُفي (يعني د يوسف عَلَيْهِ السَّلَام په ښائست) کښې ورَکې شوې نو خپلې ګوتې ئې پريك کړې او تکليف ورته هډو محسوس نه شو، او د وَئې وَئې کولو په ځائے ئې هُم دا وئيل چې مَا هٰذَا بَشَرًا ؕ اِنْ هٰذَآ اِلَّا مَلَكٌ كَرِيْمٌ ﴿۳۱﴾ ([مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: دا خو د بشر د جِنس نه نه دے، دا خو نه دے خو يو مُعَزَّزه فرښته. (پ۱۲ :یوسف ۳۱))

(تفسيرِ نعِيمی ج۲ ص۷۸)

رحمت کے شامیانوں میں خوشبو کے ساتھ ساتھ
ٹھنڈی ہوا چلائے گی اے بھائیو! نماز

د رَحمت په برنډو کښې به سره د خوشبويانو
يخې يخې هواګانې چلوي اے ورورہ! دغه لمُونځ

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## په ځنکدن کښې د خوږ مُصطَفیٰ ﷺ د دِيدار خوندونه

په ربّ مې دِ قَسَم وي چې که د ځنکدن په وخت کښې د خوږ مُصطَفیٰ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ديدار نصيب شي نو هغه وخت به هُم هيڅ تکليف نه محسوسيږي بلکه حالت به دا وي چې ساه خو خيژي خو په ژبه دا جاري وي چې خوږه مَدَني آقا (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم)! ستاسو د ښکلي مخ نه قربان شم! ستاسو د زُلفو نه قربان شم! ستاسو د ګرځيدلو د انداز نه قربان شم! ستاسو د مُسکي کيدلو نه قربان شم! صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّاٰلِهٖ وَبَارَكَ وَسَلَّم. (تفسيرِ نعيمی ج۲ ص۸۷)

سکرات میں گر روئے محمد پہ نظر ہو
ہر موت کا جھٹکا بھی مجھے پھر تو مزہ دے

چې نظر مې ځنکدن کښې وي په مخ د مُحَمَّد
راکوي به بيا د مرګ هره جټکه را ته خوندونه

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

## نیک او لمونځ ګزاره جوړېدو د پاره

هر زيارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ښارکي کيدونکي د دعوتِ إسلامي د سُنّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نيتونو سره توله شپه تيروئ ❁ د سُنّتو د تربِيَّت د پاره مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسُول سره هره مياشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "فِکرِ مَدينه" په ذريعه د مَدَني إنعاماتو رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني مياشتې په يکم تاريخ ئې د خپل ځائے ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَني مقصد: "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د إصلاح کوشش کول دي." إِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې إصلاح د پاره په "مَدَني انعاماتو" عمل او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "مَدَني قافِلو" کښې سفر کول دي. إِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ



**فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډۍ، بابُ المدينه (کراچۍ)**

**UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213**

**Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com**